دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږی مرکز | مرکز هم آهنگی امور ماین پاکی افغانستان

## دماینونو شتون کولای شول کابل ته دبریښنا دراتګ مخنیوی وکړي

**پنجشنبه د ۲۰۰۹ زیږدیز کال دجنوری ۲۲مه:** کابل ته دبریښنا راتګ دافغانستان لپاره یو لوی ګام بلل کیږي او دافغانستان دماین پاکی پروګرام ویاړې چې ددغه کار په بشپړیدو کې یې لویه ونډه درلوده . هغه لاره چې په اوږدو کې یې اوس دبریښنا لین غزیدلی، درې کاله وړاندې په ماینونو او نورو له جګړو څخه پاتې نا چاوده توکو ګکړه وه چې دبریښنا راتګ یې ناشونی کړی وو او دغه لاره له پلخمري څخه تر حیرتان پورې د افغانستان شمال ته پرته وه.

داکتر محمد حیدر رضاء ، دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږۍ کولو مرکز  رئیس وویل: " دایوه ښه بیلګه ده چې دبیا رغاونې په برخه کې دماینونو پاکول دلومړي ګام په توګه په ګوته کوي. که چیرې دغه لاره له ماینونو څخه نه وای پاکه شوې موږ به نن ورځ کابل ته دبریښنا درسیدو شاهدان نه وو چې دکابل دخلکو دستونځو په اوارولو او دهیواد په پیاوړې کولو کې رغنده رول لري . "

دافغانستان دماین پاکی پروګرام مسئولیت لري تر څو ټول هیواد دماینونو او نورو ناچاوده توکو له شتون څخه پاک کړي تر څو  زیربنایي چارې بهبود ومومی او څمکه د کښت ، څرځایونو او نورو پراختیایي چارو لپاره چمتو شي او همدارنګه دتلفاتو مخنیوی وشي. د ۲۰۰۸ زیږدیز کال په ترڅ کې ۵۰ کیلو متره په ماینونو ککړه څمکه له ماینونو او نورو نا چاوده توکو څخه پاکه شوه چې په ترڅ کې یې ۸۴،۰۰۰ څخه زیات د پرسونل ضد ماینونه ، ۹۰۰ دټانک ضد ماینونو او له دوه نیم میلیونو څخه زیات له جګړو پاتی نا چاوده توکي راټول او له منځه وړل شوي دي .

**دلا زیاتو معلوماتو لپاره :**


رفیع الله الکوزی
په افغانستان کي دملګرو ملتونو دماین پاکي دمرکز دعامه اطلاعاتو امر
دتیلفون شمیره : ۰۷۹۹۲۱۲۱۴۲/۰۷۷۸۲۱۲۱۴۲
دبریښنا لیک پته : rafiullah@unmaca.org